

# په پښتو کې د ادبي کره کتنې تاریخي بهیر

څېړندوی فضل الرحمن علیزی

په پښتو کې د ادبي کره کتنې تاریخي بهیر
څېړندوی فضل الرحمن علیزی

## The Historical Background of Literary Criticism in Pashto

Assistant Professor Fazal Rahman Alizai

2022

ISBN 978-9936-661-33-2

9 789936 661332

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونيت

د ژبو او ادبياتو مرکز

پښتو ژبې او ادبياتو انستيتوت


# په پښتو کې د ادبي کره کتنې تاريخي بهير


خېړندوی فضل الرحمن عليزی

## د کتاب ځانګړنې:

**د کتاب نوم:** په پښتو کې د ادبي کره کتنې تاریخي بهیر

**لیکوال:** څېړندوی فضل الرحمن علیزی

**ایډیټور او مهتمم:** څېړندوی مطیع الله ساحل

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**دلیکلو کال:** ۱۴۰۰ ل.

**د چاپ کال:** ۱٤۰۱ل / ۱۴۴۴ هـ ق

**دچاپ ځای:** لایف سټار مطبعه، کابل-افغانستان

ISBN : ۲- ۳۳- ٦٦۱- ۹۹۳٦- ۹۷۸

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

**سرلیک** **مخګڼه**


**د لاربنود استاد نظر ............................................. أ**

**تقریظ......................................................................ز**

**تقریظ...................................................................... م**

**سریزه...................................................................... ۱**

**لومړی ځپرکی**

**د موضوع شالید ........................................................ ۷**

**دویم ځپرکی**

**د کره کتنې د تاریخي بهیر څېړنه ......................................... ۲۳**

۱ - د کره کتنې پېژندنه ............................................................ ۲۳

الف) د کره کتنې تعریف ................................................. ۲٤

۱ . لغوي تعریف............................................................................ ۲٤

۲ . د کره کتنې اصطلاحي پېژندنه ........................................................ ۲۷

ب) د کره کتنې اهمیت ..................................................... ۲۹

ج) د کره کتنې ډولونه .......................................................... ۳۳

۱ . نظري کره کتنه ......................................................................... ۳۳

۲ . عملي کره کتنه ......................................................................... ۳٦

الف)تأثري یا احساسي کره کتنه (Impressionistic criticism) .......... ۳۹

ب) حُکمي کره کتنه ........................................................................ ٤۱

د) د کره کتنې آداب ......................................................... ٤۳

۲ . د تاریخ په اوږدو کې د کره کتنې د بهیر څېړنه.......................... ٤٦
الف)په لویدیځ کې کره کتنه........................................ ٤٧
ب) په ختیځ کې کره کتنه ........................................ ٥٥

**درېیم څپرکی**

**د کره کتنې د معیارونو، اصولو او لارو چارو پېژندنه**............... ٦٥
الف)مطلق اصول او معیارونه ........................................ ٦٦
ب) نسبي اصول او معیارونه ........................................ ٦٩

**څلورم څپرکی**

**په پښتو ادبیاتو کې د ادبي کره کتنې د تاریخي بهیرڅرنګوالی** ............ ٧٧
الف) لرغونې دوره........................................ ٧٨
ب) منځنۍ دوره ........................................ ٨٢
ج) اوسنۍ دوره ........................................ ۱۰۳
**لومړی- افغانستان ........................................۱۰٦**
الف) دروښانتیا پړاو ........................................ ۱۰۷
ب) ویښتیا پړاو ........................................ ۱۱۵
ج ) د ویښتیا پړاو د دویمې برخې لیکوالان **........................................ ۱٤۰**
د) اوښتون پړاو ........................................ ۱٦۱
۱. د ثور تر کودتاه وروسته د کره کتنې څرنګوالی ........................ ۱٦٤
۲ . په جهادي ادب کې د کره کتنې څرنګوالی ........................ ۲۲۷
الف) د هېواد په د ننه کې د ادبیاتو او کره کتنې حالت او څرنګوالی ......... ۲٤۰
ب) له هېواده بهر د ادبیاتو او کره کتنې حالت او څرنګوالی ..................... ۲٤۳
۳ .له ۲۰۰۱ ز کال څخه را وروسته په پښتو ادبیاتو کې د کره کتنې څرنګوالی۲٤۷

**دویم – پښتونخوا ........................................... ۲۶۷**

الف) د هند له آزادۍ نه مخکینی پړاو ................................ ۲۷۱

ب) د هند له آزادۍ نه وروسته پړاو.................................... ۲۷۸

## پنځم څپرکی

**په پښتو ژبه او ادبیاتو کې د کره کتنې د شوي کار ارزونه.................. ۲۹۹**

۱. د نظم په برخه کې د تر سره شوو کارونو تحلیل او ارزونه........ ۳۰۰

الف) لرغونې دوره ............................................ ۳۰۰

ب ) منځنۍ دوره ............................................ ۳۰۰

ج )معاصره دوره ............................................ ۳۰۷

۲. د نثر په برخه کې د تر سره شوو کارونو تحلیل او ارزونه ............ ۳۰۹

الف) لرغونې دوره........................................... ۳۰۹

ب ) منځنۍ دوره ............................................ ۳۱۱

ج)په معاصره دوره کې د نثرپه برخه کې د کره کتنې ارزونه ........... ۳۱۳

د ثور له کودتاه څخه وروسته د کره کتنې ارزونه ....................... ۳۲۰

**له ۲۰۰۱ م کال څخه را په دېخوا د کره کتنې ارزونه ................... ۳۲٤**

لومړی؛ ادبي بهیرونه.............................................. ۳۲۶

دویم؛ رسنۍ او راډیو ګانې ........................................ ۳۲۶

دریېم؛ انټر نټ او یا هم ویبپاڼې.................................... ۳۲۶

**پایله ......................................................... ۳۲۹**

**وړاندیزونه ................................................... ۳۳۳**

**مأخذونه ..................................................... ۳۳۵**

# د لارښود استاد نظر

((په پښتو کې د ادبي کره کتنې تاریخي بهیر)) د هغې علمي ـ څېړنیزې پروژې نوم دی چې څلور کاله وړاندې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت د متن پوهنې څانګې له خوا څېړنیار فضل الرحمن علیزي ته زما په لارښوونې د څېړندوی علمي رتبې ته د لوړاوي په موخه ورکړل شوې وه، چې له نېکه مرغه له ټاکلي وخت سره سم یې د یوې رسالې په بڼه بشپړه کړه او زما د ټولو مشورو په پام کې نیولو سره یې ما ته د وروستي ځل لپاره را وسپارله چې دا دی په اړه یې خپل نظر په لاندې توګه څرګندوم:

د کره کتنې په اړه ډېر تعریفونه شوي چې یو نسبتاً منلی تعریف یې په دې ډول دی: کره کتنه په لغت کې محاکمه کولو ته وایي او په ادبي اصطلاح کې هغه پوهه ده چې د یو متن یا اثر ښېګڼې او بدګڼې په بې طرفه توګه را برسېره کړي او د منځپانګې څرنګوالی یې جوت کړي. کره کتونکی بیا هغه چا ته وایي چې د کره کتنې یا نقد په وسیله د ادبي آثارو د ښه والي او نیمګړتیاوو په اړه لوستونکي ته حقایق په مخ کې ږدي چې په دغو حقایقو کې د اثر دود پالنه او نوښت، ښکلاوې او نیمګړتیاوې، پېچلتیاوې او ساده والی، څرګندې او مبهمې، تېروتنې او نوښتونه، ژبنۍ او املایي تېروتنې او د ارزښت د څرګندتیا ټول اړخونه شامل دي.

دغه اثر چې د تحلیلي ـ تشریحي او د اړتیا په صورت کې د انتقادي میتود په رڼا کې د کره کتنې د کره کولو، آرونو او اصلوبو د نوو آرونو په اړه کښل شوی ډېر جالب او نوي موضوعات راسپړي چې د هغې په رڼا کې زموږ اوسنۍ کابو اکثره څېړنې له ستونزو او ربړو څخه ډکې دي او باید چې د همدغو نوو څېړنیزو غوښتنو په رڼا کې خپلې څېړنې سمې کړو.

د دې ترځنګ دغه اثر موږ ته د کره کتنې اهمیت او مبرمیت هم جوتوي او دا خبره په ډاګه کوي چې له کره کتنې څخه باید د خپلو شخصي ـ عقدو پاللو او سلیقو خړوبولو معنا وانخیستل شي او نه هم د ادب په نامه یو داسې غشی وي چې د هر چا د ادب د زړه مراندې پرې سورې شي، چې نه یوازې رغول یې ناشونې وي، بلکې بیا په کې ځای جوړول هم له شونتیا ووځي.

دقیقاً دغه اثر په خپلو پنځو څپرکو کې چې لاندې یې یادونه کېږي د ادبي اثارو د کښلو لپاره داسې لارې ګودرې وړاندې کوي چې په ګانده کې د څېړونکي لپاره د کاڼي کربښې او منزل مقصود ته په جګو سترګو رسېدل دي:

نو دغه اثر په سریزې پیل شوی چې د څېړنیزو اثارو د معمول په څېر په کې د موضوع اهمیت، مبرمیت، موخه، د کار اډانه، د کتاب لنډه پېژندنه، فرضیه، د څېړنې میتود، مننې، کور وداني او نور اړوند مسایل شامل دي. تر دې چار وروسته لومړی څپرکی راغلی چې په کې د موضوع شالید څېړل شوی او دا په کې په ډاګه شوې تر ده وړاندې چې کومو کسانو په دې اړه کارونه کړي، کوم دي، څه ډول دي، څنګه دي او په څه ډول حالاتو کې کښل شوي او له دومره کار سره سره بیا هم ولې ده پر دغه کار له سره کار وکړ، د هغوی نیمګړتیاوې کومې دي او د ده نوښت او غوره والی په څه کې دی؟

تر دغو سپیناویو وروسته دویم څپرکی راغلی چې په هغې کې د کره کتنې تاریخي بهیر څېړل شوی چې په تاریخي بهیر کې د کره کتنې له پېژندنې واخله د کره کتنې تر ډولونو پورې ټول مسایل په مشرح ډول سپړي او په دې هم غږېږي چې په لویدیځ کې کله او څنګه کره کتنه را منځته شوه او بیا یې ختیځ ته څنګه لاره پیدا کړه، په ختیځ کې بیا پښتو ژبې او ادب ته څنګه راغله او ایا اوس هم شته او که له منځه تللې؟

تر دې وروسته درېیم څپرکی لولو چې په هغې کې د کره کتنې د معیارونو، اصولو او لارو چارو پېژندنه مطالعه کوو، خو دا چې لیکوال د افغانستان

حساسیتونو، ننګونو او ستونزو ته متوجه دی، نو دغه آرونه د اصولو په رڼا کې پر دوو برخو وېشي چې یو یې مطلق اصول او معیارونه دي او بل یې نسبي اصول او معیارونه او دې ته نغوته کوي چې زموږ خلک سیاسي او فکري حالاتو ته په کتلو سره ډېر ځله نسبي اصولو او معیارونو ته ډېر ارزښت ورکوي او یا په دې لاره ډېر ځي، په داسې حال کې چې د ادب وده او پرمختیا په نسبي کې نه، بلکې په مطلقو آرونو کې نغښتې او ترڅو چې موږ همدغه لاره خپله نه کړو، نو له سیالو اثارو سره به سیالي کول هم راته مهال خبره وي.

څېړنیار علیزی په څلورم څپرکي کې په پښتو ادبیاتو کې د ادبي کره کتنې د تاریخي بهیر څرنګوالی څېړي چې دا بحث ښایسته اوږد، په زړه پورې او ستونزمن بحث دی، په دې معنا په دغه بحث کې لومړی لرغونې دوره څېړل شوې، ورپسې منځنۍ او اوسنۍ دورې څېړل شوي چې په اوسنۍ دورې کې بیا درې واړه پړاوونه، لکه روښانتیا، ویښتیا او اوښتون پړاوونه تر بحث لاندې نیول شوي، تر هغې وروسته د جهادي ادب په ادبیاتو کې د کره کتنې څرنګوالی، د هېواد په دننه کې د ادبیاتو او کره کتنې حالت او څرنګوالی او له هېواده بهر د ادبیاتو او کره کتنې حالت او څرنګوالی په تفصیلي توګه څېړل شوي دي.

لیکوال پر همدغه کار بسنده شوی نه دی او له ۲۰۰۱ کال څخه را وروسته په پښتو ادبیاتو کې د کره کتنې پر څرنګوالي یې هم بحث کړی چې دا په ټوله معنا نوی او د پام وړ بحث دی.

د دې لپاره چې موضوع ترې نیمګړې پاتې شوې نه وي، نو همدغې څپرکي ته یې دویمه برخه هم پیدا کړې او هغه د پښتونخوا د کره کتنې بحث دی چې پر دوو برخو یې وېشلی، لومړی یې د هند له آزادۍ نه مخکې پړاو او دویم یې له آزادۍ نه وروسته پړاو دی چې ډېرو دقیقو مسایلو ته لوستونکي متوجه کولای شي.

تر دې وروسته پنځم او وروستی څپرکی دی چې په هغې کې په پښتو ژبه

او ادب کې د کره کتنې د شوي کار ارزونه ده چې پرته له شکه دغه کار د اوسپنې د نینو چیچل دي، په دې معنا لومړی په کې د نظم په برخه کې شوی کار ارزول شوی چې درې واړه ادبي دورې رانغاړي او دویم په کې د نثر په برخه کې شوی کار ارزیابي کوي چې هغه هم درې واړه ادبي دورې څېړي، خو په زړه پورې والی په کې دا دی چې د ثور له انقلاب مخکې او وروسته د دواړو وختونو آثار ارزیابي کوي او تر هغې وروسته تر نن ورځې پورې د آثارو ارزیابي د کره کتنې د اصولو په رڼا کې کوي.

همدغه راز په دې دوره کې ادبي بهیرونه، رسنۍ او راډیوګانې هم څېړي او په اړه یې کافي معلومات وړاندې کوي، آن دومره دقیق، حساس او پټ مسایل را بربنډوي چې که پخواني نومیالي څېړونکي ژوندي وای، نو اوس به د علیزي تنۍ هم په ذره بین نه پیدا کېدلای، خو ده جرأت کړی ځان یې پل کړی، خو نورو ته یې د جرأت کولو مراندې مضبوطې کړې دي.

تر دغو مسایلو وروسته پایله راغلې چې په کې د موضوع په اړه اوږد بحث شوی، خپل شوی کار یې هم ارزولی، ښېګڼې او نیمګړتیاوې یې هم په ګوته کړې او د خپلو ستونزو او نیمګړتیاوو یادونه یې هم کړې چې د سمون او پراختیا لپاره یې مناسب وړاندیزونه هم مطرح کړي او په پای کې یې د مأخذونو فهرست د الفبا په ترتیب راوستی او په دې توګه یې خپله پروژه په (۲۴۲) ای فور مخونو کې بشپړه کړې ده چې په هغې کې مستقل آثار، مجلې، مقالې او انټرنټي پاڼې ټول شامل دي، چې دا دی زه د دغې رسالې په اړه په لاندې توګه خپله ارزونه وړاندې کوم:

له کله نه چې ښاغلي فضل الرحمن علیزي په خپلې پروژې کار پیل کړی، له هماغه وخته یې وخت په وخت خپل کړی کار، مأخذونه او د کار کړندود له ما سره شریک کړي چې وخت په وخت مې ورته کار سم، نوي مأخذونه او مناسبې مشورې ورکړې، ده هم په اخلاص زما مشورې کومې چې د منلو وې منلې او په

کومو کې یې چې ملاحظې لرلې په پوره وړتیا او ځیرکتیا لـه مـا سره مطـرح کـړې او د قناعت په صورت کې مې تر ډېره ورسره منلې چې د کور ودانې ترڅنـګ تـرې مننه هم کوم او په لاندې توګه یې کار ارزوم:

✍ تر ډېره یې هڅه کړې چې پـه خپلـې پـروژې کـې لـه ګونګـو، اوږدو، بـې ځایه او بې ربطه جملو او کلمو څخه ډډه وکړي.

✍ هڅه یې کړې چې ژبه یې ساده، عام فهمه، په معیـار برابـره او منلـې وي چې له نېکه مرغه تر ډېره په دې چار کې بریالی هم دی.

✍ تر وسـې وسـې یـې هڅـه کـړې چـې موضـوعات پـه مناسـب او نـوې بڼـې تحلیل او تجزیه کړي چې د ده کار ته یې ځانګړی ارزښت ورکړی.

✍ د دې لپـاره چـې د موضـوع حـق یـې پـوره ادا کـړی وي، نـو پـه ځینـو موضوعاتو یې ډېره او ځانګړې توجه کړې چې موضـوع تـرې اوږده شـوې، خـو لـه اوږدوالي سره سره یې په زړه پورې او جالبه کـړې هـم ده چـې دا یـې هـم یـو ډول کمال ګڼلای شو.

✍ له بې ربطه جاجونې، کلمو، جملو او پراګرافونو څخه یې ډډه کـړې او تـر وسې وسې پر خپلې محوري موضوع چورلېدلی.

✍ موضوع یې د رتبې د اخیستلو په موخه نه، بلکـې لـه مینـې، زړه او شـوقه څېړلې چې کار تـه یـې ځـانګړی زړه راښـکون ورکـړی چـې پـه خپـل ځـای کـې د ستاینې وړ دی.

✍ د موضوع په لیکلو کې یې واحد لیکدود او د لیکنښو سمه کارونه مراعـت کړې او ترڅنګ یې آثار تر خپلې وسې تحلیل او تجزیه کړي هـم دي، دغـه راز لـه کومو مأخذونو څخه یې چې ګټنه کړې هغه یې په منظمه او دقیقـه توګـه ښـوولې دي چې دغه کـار یـې څېړنـې تـه ځـانګړی ارزښـت ورکـړی، نـو دا او دې تـه ورتـه خوبیـو تـه پـه کتلـو سره زه یـې د لارښـود اسـتاد پـه توګـه کـار مثبـت ارزوم او لـه څېړنیـار رتبـې څخـه یـې د څېړنـدوی علمـي رتبـې تـه د لـوړاوي وړ ګـڼم او د

افغانستان د علومو اکاډمۍ د ریاست درانه مقام ته وړاندیز کوم که څومره ژر شونې وي دغه پروژه دې د چاپ په ګاڼه سینګار کړي چې ګټه یې عامه شي.

مینه او پېرزوینه

څېړنوال سیدنظیم سیدي

د پښتو ژبې او ادبیاتو د انسټیټوټ آمر

۱۷/ ۱۰/ ۱۳۹۹ لمریز

# تقریظ

د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتوانستیتوت د ادبیاتو او متنپوهنې څانګې د علمي غړي څېړنیار فضل الرحمن علیزي علمي څېړنیزه رساله((**په پښتو کې د ادبي کره کتنې تاریخي بهیر** )) چې دڅېړندوی علمي رتبې ته د لوړاوي لپاره یې د څېړنوال سید نظم سیدي په لار ښوونه په (۲۴۲) مخونو کې بشپړه کړې او ماته د ژبو او ادبیاتو مرکز د ۱۲/ ۱۱/ ۱۳۹۹نېټې د (۱۲٤۵) ګڼه رسمي لیک په وسیله د ارزوونکي نظر(تقریظ) لپاره را استول شوې وه، د منځپانګې له لوستنې وروسته یې په اړه خپله ارزونه او نظر څرګندوم.

دا چې په ادبپوهنه کې «ادبي کره کتنه» خپل ځانګړی ارزښت او اهمیت لري، نو په ادبي مطالعاتو او څېړنو کې یې د ادب پېژندنې له پاره ځکه تل اړتیا شته چې: «ادبي کره کتنه» په غور سره یوه ژوره او هر اړخیزه کتنه ده، چې حقایق را برسېره کوي. که د ادبپوهنې د یوې لویې او مهمې څانګې په توګه د ادبیاتو د ارزونې لپاره ادبي کره کتنه نه وای د ادبي آثارو ارزښت به مو څنګه ټاکه؟ نه به ادیب (لیکوال او شاعر) په خپله ښه او بده پوه شوای وای او نه به لوستونکی د ادیب د اثر له اصلي پیغام او غرض نه ژر او په سمه توګه خبر شوی وای. دا دواړه چارې موږ ته کره کتونکی د ادبي کره کتنې په وسیله کوي، نو ویلی شو چې کره کتنه د ادبي آثارو لوستونکي، پنځوونکي او په عامه توګه پوهې، هنر او ادب، درېواړو ته اغېزناکه ګټه لري.

لوستونکي ته یې ګټه دا ده چې د اثر د لوستنې له پاره یې د وخت د ضایع کیدا مخه نیسي او هغه اثر چې دی یې په ورځو ورځو نه شي لوستلی، خو پر هغه اثر تر سره شوې کره کتنه په لږ وخت کې لوستلی او د لیکوال یا شاعر په اصلي موخه او غرض چې د کره کتنې په وسیله را برسېره شوي، ډېر ژر پوهېدلای شي. د اثر لیکوال یا شاعر(ادیب) ته یې ګټه دا ده چې خپلو

نیمګړتیاوو او کمزورتیاوو ته یې ور پام او د هغو د اصلاح او سمون په فکر کې کېږي، د کمال یا بشپړتیا پړاو ته رسېږي او همدغه کره کتنه په واقعیت کې په عامه توګه د پوهې او ادب د هر اړخیزې پرمختیا لامل ګرځي.

د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز، د ادبي کره کتنې همدې ستر ارزښت او اهمیت ته په کتنه او پاملرنه د یوې سترې او مهمې علمي فرهنګي اړتیا په توګه د خپلو څېړنیزو چارو په کړنلاره او پلان کې د ادبي کره کتنې هر اړخیزې پېژندنې او په پښتو ژبه او ادب کې د هغې تاریخي بهیر د ودې او پرمختیا د څرنګوالي د څېړنې موضوع ورځای کړې او د یوې علمي څېړنیزې څلور کلنې پروژې په توګه یې د هغې د بشپړولو له پاره څېړنیار فضل الرحمن علیزی ګومارلی و. څېړونکی د هغې بشپړولو ته په خپل وخت لاس په کار شوی او د ښاغلي څېړنوال سید نظیم سیدي په لار ښوونه یې د ټاکلو مفرداتو له مخې په دې لاندې پنځو څپرکو کې په دې ترتیب خپله علمي چار تر سره کړې ده:

څېړنه د څېړونکي په سریزه، چې په کې یې د دې څېړنې پر اړتیا، لنډې پېژندنې، د موضوع پر اهمیت، مبرمیت او د خپل کار د تر سره کېدو په څرنګوالي بحث کړی، پیل شوې او بیا په ترتیب سره په لومړي څپرکي کې د دې څېړنیزې پروژې د موضوع په شالید کې هغه آثار د کره کتنې په ترخ کې را پېژني چې د دې موضوع په اړه په پښتو ژبه او ادب کې د مخه لیکل شوي دي لیکوال پر هغو ټولو یو د خپل تر سره کړي کار مبرمیت او اهمیت را څرګند وي.

دویم څپرکی د کره کتنې د تاریخي بهیر څېړنې ته ځانګړی شوی، چې په کې د کره کتنې لغوي او اصطلاحي پېژندنې سره سره د کر کتنې په اهمیت او ادابو مفصل بحث شوی، د کره کتنې بېلابېل ډولونه د نظري او عملي کره کتنې او بیا د هغو بېلابېل ډولونه: تاثري یا احساسي کره کتنه او حکمي کره کتنه جلا جلا معرفي شوي او د کارونې څرنګوالی او موارد یې ښودل شوي دي. لیکوال

په همدې څپرکي کې د تاريخ په اوږدو کې د کره کتنې بهير په لوېديځ او ختيځ کې هم په مفصل ډول څېړلي دي. په درېيم څپرکي کې د کره کتنې د معيارونو، اصولو او لارو چارو پېژندنه را غلې ده. څېړونکي په دغه برخه کې لومړی دغه اصول او معيارونه پر دوو ډولونو( مطلق اصول او معيارونه او نسبي اصول او معيارونه باندې وېشلي او هغه يې په مناسب تفصيل سره جلا جلا تشريح کړي دي. څلورم څپرکی په پښتو ادبياتو کې د ادبي کره کتنې د تاريخي بهير ځرنګوالی څېړي، چې څېړونکی لومړی د پښتو ادب پر لرغونې او منځنۍ دورې چې د کره کتنې موارد په کې کم او په عنعنوي بڼه تر سره شوې کره کتنه ده، بحث کوي، بيا پر معاصرې يا اوسنۍ دورې کې خپلې څېړنې ته تم کېږي او د معاصرې کره کتنې د اصولو او معيارونو په رڼا کې د دغې دورې په درېوارو پړاوونو (روښانتيا پړاو، ويښتيا پړاو او د اوښتون پړاو) کې د ادبي کره کتنې بهير تشريح کوي. لومړی په افغانستان کې د اوښتون په پړاو پورې اړوند د جهادي په ادبياتو کې د کره کتنې بهير په تفصيل سره څېړي او په همدې ډول په هېواد کې د ننه او بهر په پښتو ادبياتو کې د کره کتنې حالت او ځرنګوالی په مناسب تفصيل سره د عملي کره کتنې په ترڅ کې بيانوي او ورپسې په هېواد کې له ۲۰۰۱ ز کال څخه را وروسته په پښتو ادبياتو کې د کره کتنې ځرنګوالی څېړي. د همدې څپرکي په وروستۍ برخه کې په پښتونخوا کې د ادبي کره کتنې بهير ځرنګوالی په مفصل ډول په دوو پړاوونو (د هند له آزادۍ څخه د مخه پړاو او له آزادۍ نه وروسته پړاو) کې د کره کتنې د عملي بېلګو په ترڅ کې څېړل شوی او ارزول شوی دی. د څېړنې په وروستي پنځم څپرکي کې په پښتو ژبه او ادب کې د کره کتنې د شوي کار ارزونه را غلې ده. څېړونکي خپله دغه ارزونه د عملي کره کتنې د بېلګو په وړاندې کولو سره په درې واړو ادبي دورو (لرغوني، منځنۍ يا کلاسيکه او معاصره ) کې لومړی د نظم يا شعر او بيا په نثر کې په تحليلي بڼه تر سره کړې ده. په لرغوني او منځنۍ دورو کې خو د ادبي کره کتنې موارد په

نسبي ډول کم دي، خو په معاصره دوره کې په ځانګړې توګه د ثور له غميزې (بدلون – کود تا) څخه را وروسته او همدارنګه له ۲۰۰۱ څخه تر ننه د کره کتنې د بهير او حالت ارزونه په پوره هر اړخيز ډول (ان تر دې چې ادبي بهيرونه او رسنۍ يې هم له پامه نه دي غورځولي) د عملي کره کتنې د ډېرو غوره بېلګو په وړاندې کولو سره تر سره کړې ده. دا ليکنه او څېړنه د پايلې، وړانديزونو او د مأخذونو د ليکلړ په را وړلو سره پای ته رسېدلې ده.

په پښتو ژبه او ادب کې کره کتنه د خپل شاليد له مخې تاريخي لرغونتيا لري، زموږ په لرغوني او کلاسيک ادب کې د نقد يا کره کتنې ځينې بېلګې په عنعنوي مفهوم او بڼه هم تر سره شوې مخې ته راځي، خو په معاصر مفهوم د رواني لمريزې پېړۍ په لومړيو لسيزو کې پيل شوې، خو بهير يې تر ننه ډېر ورو او د قناعت وړ نه دی. که د خپلې ژبې د ادبي کره کتنې اوسنۍ وضعې ته وګورو نو راته به جوته شي چې په عامه توګه زموږ په ټولنه کې انتقاد او په ځانګړې توګه د ادب په ساحه کې ادبي کره کتنه پرون هم له ستونزو سره مخ وه او نن هم لږ و ډېره له کره کتنې ډار او هغه بده ګڼل، هغې ته د شک په سترګه کتل له يوې خوا او په عام ډول د نقد يا کره کتنې د زغم نه شتون له بلې خوا د ادبياتو په ساحه کې د يو چا په اثر کره کتنه کول او د ښېګڼو له ستاينې سربېره د هغې نيمګړتياوې يا کمزورۍ ښودل تر ډېره زموږ په ټولنه او عرف کې له شخصي دوښمنۍ سره انډول ګڼل کېږي، نو ځکه په ادبياتو د کره کتنې اوسنۍ وضعه ډېره ډاډمنه نه برېښي او له نورو ګاونډيو ژبو د کره کتنو له بهيرونو سره سيالي نه شي کولی.

سره له دې چې د کره کتنې په هکله په دې وروستيو لسيزو کې زموږ ليکوالو چې کوم آثار ليکلي او يا يې ژباړلي، هغه هم تر ډېره تيوريکه بڼه او په نظري کره‌کتنې پورې اړه لري، د عملي کره کتنې په برخه کې لويه تشه موجوده وه، کېدای شي چې د دې څېړنې په تر سره کېدو، چې څېړونکي په کې په ډېر

زیار او کړاو د عملي کره کتنې په لسګونه بېلګې د چاپ شویو خورو ورو لیکنو او څېړنو له منځه را ټولې کړي او په دې اثر کې خوندي کړي، تر یوې اندازې ډکه او په لوستو به یې د ادب د مطالعې د خاوندانو ادبي تنده لږ و ډېره خړوبه شي.

ماته د یو ارزوونکي په حیث د دې اثر لوستو پر مهال جوته شوه چې څېړونکي د خپلې څېړنې د بشپړولو لپاره په سلګونه سرچینې، چې ډېرې په کې باوري او د لومړي لاس علمي، ادبي معلوماتي منابع دي، تر لاسه کړي، په غور او دقت یې مطالعه کړي، معلومات یې تحلیل کړي او پر خپل ځای یې په مناسبه توګه کارولي دي، چې زه یې دغه کړنه ستایم. په پای کې زه د څېړونکي دغه علمي څېړنیزه پروژه داسې ارزوم:

- څېړونکی د مسایلو او موضوعاتو په څېړنه او سپړنه کې برلاسی دی، استدلالونه او څرګندونې یې په علمي اومدلله توګه وړاندې کړي دي.
- په څېړنه کې یې له تحلیلي تشریحي میتود څخه کار اخیستی دی او په ځینو برخو کې یې د اړتیا له مخې انتقادي میتود هم کارولی دی.
- د زیاتو باوري معلوماتي سرچینو څخه په استفاده یې خپله څېړنه بشپړه کړې، مأخذونه یې په څېړنه کې د دود (معاصرې مأخذ ښودنې) له اصل سره سم لومړی په متن کې د مأخذ او مخګڼې په شمېرو ښودلي او بیا یې په ټولیزه توګه د خپل اثر په وروستۍ برخه کې د څېړنې د منل شوي اکاډمیک معیار له مخې معرفي کړي دي.
- د موضوع د څېړنې مبرمیت او اړتیا یې محسوسه ده. د بېلګو په را وړلو کې یې د عملي کره کتنې له نوښت سره د هغې څېړنیز حق اداء کړی دی.
- د لیکنې ژبه یې خوږه، روانه، د پوهاوي په برخه کې له پېچلتیا او کړکېچ څخه ژغورلې او له اکاډمیک معیار سره برابره ده.

دې پورتنیو او داسې ځینو نورو ځانګړنو ته په کتنه او پاملرنه، زه د څېړونکي تر سره شوی کار بشپړ بولم او مثبت یې ارزوم. که یې د تر فیع لپاره نور شرایط پوره کړي وي، فضل الرحمن علیزی د دې څېړنې په تر سره کولو د څېړنیار علمي پوړ څخه د څېړندوی علمي رتبې ته د لوړاوي وړ بولم. د لوی

څښتن تعالی له درباره یې په علمي چارو کې تل بریالیتوبونه غواړم او د علومو اکاډمۍ ته، د دې لپاره، چې له دې اثر څخه استفاده عامه شي د چاپ او خپراوي سپارښتنه کوم.

په درنښت

څېړنپوه دوکتور سید محی الدین هاشمي

# تقریظ

د افغانستان د علوم اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز محترم ریاست ته!

ستاسې د ۱۲/ ۱۱/ ۱۳۹۹نېټې د (۱۲۴۵) ګڼه لیک په ځواب کې د څېړنیارفضل الرحمن علیزي پرعلمي-څېړنیزه رساله خپل نظر په لاندې ډول وړاندې کوم:

دا څرګنده خبره ده چې د پښتو ژبې او ادبیاتو په وده، پرمختیا او پراختیا کې ادبي کره کتونکو د ادبي کره کتنې له لارې ډېره مهمه ونډه لرلې ده. په دې ډول پښتو ادبیات د تاریخ په اوږدو کې صیقل شوي او تر نننۍ پرمختللي حالت پورې را رسېدلي دي، خو دا هم ښکاره خبره ده چې په پښتو ادبیاتو کې د ادبي کره کتنې لارې او ګودرې هماغسې چې اوس دي، په پیل کې داسې نه وې. دا یادونه دا معنا لري چې ادبي کره کتنې په پیل کې روایتي حالت لاره چې زیاتره یې د نیوکو او انتقادونو په بڼه وې، وروسته دغه حالت ورو ورو وده وکړه. ادبپوهانو تر هر څه مخکې د ادبي کره کتنې په اړه له لویه سره د ادبیاتو د نثر او شعر په لویو ډولونو او چوکاټونو کې خپلې نیوکې او لارښوونې وړاندې کړې او په را  وروسته کې یې په دې اړه ډېر ګټور او ارزښتناک تیوریک بحثونه  او څېړنې تر سره کړې. ان تر دې کچې پورې چې دا خبره ومنل  شوه چې ادبي کره کتنه، د ادبپوهنې یوه مهمه څانګه وپېژندل شوه.ځینو ادبپوهانو، ادبي کره کتنه د ادبیاتو وجدان او ځینو نورو د ادبیاتو ساه وبلله.

په پښتو ادبیاتو کې د ادبي کره کتنې په اړه د نظریاتي مطالبو او هم د ادبي کره کتنې د عملي نمونو ټول شاهدان یو. په پښتو کې د ادبي کره کتنې په اړه ښه ډېر څېړنیز بحثونه ترسره شوي دي، خو د ادبي کره کتنې د تاریخي بهیر په هکله خال خال یادونې او ارزونې تر سره شوې دي او ډېر لږ شمېر آثار لیکل شوي دي. په پښتو ادبیاتو کې د ادبي کره کتنې د تاریخي بهیر د څېړنې په باب دا وروستۍ څېړنه ده چې د یوې علمي – تحقیقي پروژې په بڼه ترسره کېږي، نو ځکه ویلی شو چې پر دې موضوع علمي څېړنه د وخت محسوسه اړتیا

وه چې یوه ځوان او وړ څېړونکي ته د هغه د څېړنیزې وړتیا له مخې ورکړل شوې او نوموړي دا مهمه موضوع په پنځو څپرکو کې څېړلې ده.

تر کومه ځایه پورې چې ما د نوموړي څېړونکي دا څېړنیز کارلـه سره تـر پایـه پورې ټکي پر ټکي وکوت، پر دې بـاوري شـوم چـې دا کارپـه ډېـره ښـه طریقـه تـر سره شوی او د څېړنې لپاره نه یواځې مناسب څېړنـدود پـه پـام کـې نیـول شـوی، بلکې همدا مېتود په ټول اثر کې په څېړنیزې زیرکۍ سره عمـلي او تطبیـق شـوی هم دی. د موضوع مخینه پـه زړه پـورې تــشریح شـوې ده. د ادبي کـره کتنـې پـه اړوند چـې څېړونکـي کـومې منـابع لوسـتونکو تـه ورپېژنـدلي، پـر هغـو نـه یـواځې علمي تبصره شوې،بلکې د راوړل شویو سرچینو ارزونه شوې او په ټوله کـې لـه ده مخکې د ترسره شوي کارجاج اخیستل شوی او د هغو منـابعو نقد پـه داسـې ډول تر سره شـوی چـې هـم یـې د آثـارو د لیکونکـو حـق ادا شـوی، هـم یـې مثبتـې او نیمګـړې خـواوې پـه ښـه شـوې او هـم یـې د خپلـې څېړنـې د تـرسره کولـو لپـاره منطقي دلیلونه راوړي دي، لیکوال په دې نیـت دا کـار تـرسره کـړی چـې د خپـل وس او توان په اندازه د پښتو ادبیاتو د تاریخي بهیر د روښانه کولـو پـه برخـه کـې نوې هڅه وکړي او شته خلاوې ډکې او نیمګړتیاوې پوره کړي.

ورپسـې یـې د کـره کتنـې د پېژنـدنې پـه بـاب مناسـب تیوریـک او څېړنیـز بحثونه کړي، د کره کتنې معیارونه، لارې چارې او اصـول یـې ښـودلي او لـه هغـه وروسته یې د پښتو ادبیاتو په لرغـونې، منځنـۍ او معـاصره دورو کـې د ادبي کـره کتنې د تاریخي بهیرپر څېړنه داسې راڅرخېدلی،لکه څنګه چې د دغـې موضـوع د څېړنې په برخه کې لازم و، نه یې په دې اړه د کوم څېړونکي هڅې هېـرې کـړې او نه یې هغه ټولې پـه پټـو سـترګو منلـې دي، بلکـې پـه خپـل خپـل ځـای کـې د لیکوال نیوکې هم ور سره ملې روانې دي او دا کـار د یـوه ښـه څېړونکـي څرګنـده نښه ده.

څېړونکی په دې موضوع کې دومره ننوتی چې لوستونکی فکر نـه کـوي چـې

دا اثر به نوموړي ليکوال، د څېړنـدوی علمـي ترفيـع د ترلاسـه کولـو لپـاره ليکلـی وي، بلکې خبره له دې نه لوړه معلومېږي. په دې اثر کـې د څېړونکـي اخـلاص او څېړنيزه ژمنه(تعهد) دواړه سره غاړه غړې شـوي او يـو داسـې ګټـوراثر تـرې ترتيـب شوی چې په دې برخه کې د ځوانو څېړونکو لپاره د څېړنې روڼ څراغ کېدای شي.

په دې علمي ـ څېړنيزه پروژه کې يو بل ښه کار دا هـم شـوی دی چـې د هـر څپرکي پـه پـای کـې، د هماغـه څپرکـي د څېړنـې لنـډيز راوړل شـوی دی او دا د څېړنې هغه غوره ميتـود او روش دی چـې زه يـې د هـر علمـي-تحقيقـي اثـر لپـاره ګټور بولم.

د اثرپه پايله کې دا خبره شوې چې پښتو ادبيات د نورې نـړۍ د ادبيـاتو پـه شان په خپله منځپانګه کې د نيوکو تومنه لـري چـې دا يـې د روايتـي کـره کتنـې څرک يـې بللـی شـو. دې کـارادبي کـره کتنـې تـه لار پرانيسـتې او پـه دې ډول د پښتو ادبياتو په منځنۍ دوره کې د لرغونې دورې پـه پرتلـه بـدلون ښـودل شـوی دی او د پښتو ادبياتو په معاصره دوره کې په منظمه توګه ګڼ شمېر آثـار رامنځتـه شوي، دکره کتنې حالت او څرنګوالی بيان شوی، خو د اوسـني وخـت د امکانـاتو او د لاسرسي وړ وسـايلو لـه پرېمانـۍ او اسـانتياوو سره سره د ادبي کـره کتنـې اوسنی وضعيت هم د قناعت وړ نه دی بلل شوی.

لـه شـک پرتـه زمـوږ پـه روان ادبي بهيـر کـې د ادبي کـره کتنـې معيـارلا هـم مناسب حالت نه لري او زموږ په پښتو ادبياتو کې ادبي کره کتنه، د علمي اصـولو او پرنسيپونو پـر ځـای، پـر ذوقـي او شخصـي مسـايلو را څرخـي. لـه دې املـه پـر ادبي کره کتنه د باور فضا رامنځته کولو او د سالمې کره کتنې معيارونو او اصـولو ته د مخې کولو او په عمل کې پلي کولو باندې ځـانګړې ټينګـار شـوی دی، ټـول موضوعات يې مشرح تشريح شوي دي، وړانديزونه يې جـوړوونکي او مأخذونـه يـې ګڼ دي. د ليکوال علمي دريځ د ستاينې وړ دی، هيلـه ده چـې د دغـې علمـي – تحقيقي پـروژې پـه تاييـد او چـاپولو سره، زمـوږ ځـوان نسـل د سـالمې ادبي کـره کتنې لاره خپله کړي.

پـه پـای کـې زه د دې اثـر پـه کښـلو سره د هغـه د ليکـوال هڅـه سـتايم، د

څېړنيار له علمي رتبې څخه يې د څېړندوی علمي رتبې ته د لوړېدو وړاندېز کوم، هيله ده چې دا کتاب د افغانستان د علومو اکاډمي له خوا ژر چاپ شي، تر څو درانه لوستونکي د نوموړې علمي - څېړنيزې پروژې له ارزښتونو او مزاياوو څخه نه يواځې خبر شي، بلکې په عملي توګه، زموږ پرهرادبي اثرباندې ادبي کره کتنه تر سره شي او په دې برخه کې د معافيت فرهنګ پای ته ورسېږي.

په درناوي

څېړنپوه محمدنبي صلاحي

د ژبو او ادبياتو مرکز علمي غړی

# سریزه

کره کتنه د ادبپوهنې له دریوو اساسي څانګو څخه یوه مهمه څانګه ده او نورې دوه څانګې يې ادب تیوري او ادب تاریخ دي. کره کتنه د لیکل شوو آثارو ښېګڼې او نیمګړتیاوې په ګوته کوي،له لیکوال سره د خپل لیکل شوي اثر په بشپړولو او له لوستونکي سره د لیکل شوي اثر په لا ښه پوهېدنه کې مرسته کوي.ادبپوهان په دې عقیده دي چې ادبیات د یوې ټولنې د وجدان حیثیت لري، په ټولنه کې د بېلابېلو ناخوالو او د بې عدالتیو پر وړاندې ولس ویښوي او د هغوی د مخنیوي لپاره يې عمل ته هڅوي، خو کره کتنه بیا په ادبیاتو کې د وجدان حیثیت لري، ادبیات اصلاح کوي، په ادبیاتو کې د نغښتي پیغام په رسولو کې چې باید د یوې ټولنې اوسېدونکو ته په ښه شکل ورسېږي مرسته کوي، کره کتنه په ادبیاتو کې، لکه د انسان په وجود کې د ساه(روح) حیثیت لري، کله چې د انسان له بدن څخه ساه(روح) وځي، نو انسان مري، کله چې له ادبیاتو څخه کره کتنه لرې کړای شي، ادبیات هم مري او له منځه ځي.

ادبیات او ادبي کره کتنه په خپل منځ کې نه شلېدونکې اړیکې لري، ځکه د ادبیاتو یا ادبي آثارو له را منځته کېدلو سره سم کره کتنه هم را منځته شوې ده، کله چې ادبیات را منځته شوي او یا هم یو ادبي اثر پنځول شوی، نو هغه وخت له پنځوونکي سره او یا لوستونکي سره د ښه او بد یا هم سم او ناسم فکر پیدا شوی دی او د ادبیاتو له پیدایښت سره سم تر اوسه پورې ورسره مله روانه ده، څومره چې ادبیاتو د خپل تکامل پړاوونه وهلي او پرمختګ يې کړی په هماغه اندازه کره کتنې هم د ټولنې له اړتیا وو سره سم ورسره ملګرتیا کړې او له اوږد تاریخي مزل څخه وروسته يې اوسنی ښه غوره کړې ده. که و وایو چې په ادبیاتو کې د کره کتنې له برکته پرمختګونه را منځته شوي دي، دا سمه او مهمه خبره ده، ځکه کره کتنه ده چې په هر وخت او زمان کې يې د ادبیاتو له پرمختګ سره مرسته کړې او د تکامل پړاو ته يې رسولې دي.په کومه ټولنه کې چې کره کتنې ته په درنه سترګه کتل کېږي، د هغې ټولنې ادبیات هم په نړیواله کچه پېژندل شوي او

نړیوالتوب یې تر لاسه کړی دی.

په ادبیاتو کې د کره کتنې ارزښت او اهمیت ته په کتلو مې وپتېیله چې د څېړندوی علمي رتبې ته د لوړېدو لپاره (**په پښتو کې د ادبي کره کتنې تاریخي بهیر**) موضوع د خپل څېړنیز کار لپاره ځکه وټاکم چې له یوې خوا مې له یادې موضوع سره علاقه درلوده او له بلې خوا چې په دې برخه کې کوم کارونه شوي دي، په خپل ځای او وخت کې له ارزښت څخه برخمن دي، خو د نن وخت محسوسو ضرورتونو ته په کتلو سره اړتیا لیدل کېده چې باید په دې برخه کې نوی کار او څېړنه تر سره شي. له نېکه مرغه کله مې چې د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز له مسؤلو استادانو سره دا موضوع شریکه کړه، هغو هم را سره ومنله او څېړنوال سید نظیم سیدي یې زما د لارښود استاد په توګه وټاکه. البته د دې علمي – څېړنیزې رسالې نوم له لارښود استاد او د کتاب د مهتمم سره په مشوره، «**په پښتو کې د ادبي کره کتنې تاریخي بهیر**» شو.

د پورته موضوع د لیکلو لپاره مې لومړی د سرچینو د پیدا کولو او را ټولولو لپاره کار پیل کړ، د دې موضوع اړوند چې (په کتابونو، مجلو، جریدو، ورځپاڼو او انټرنیټي ویبپاڼو) کې څه لیکل شوي وو، هغه ټول مې را ټول کړه، هغه څه چې له ما سره یې د دې علمي پروژې په بشپړولو کې مرسته کوله، د هغوی د تنظیمولو پر چارو باندې مې لاس پورې کړاو په خپل ځای کې مې ورڅخه ګټه واخیستله، کله چې به مې د خپلې دې علمي څېړنې کومه برخه یا څپرکی بشپړ شو، نو له خپل لارښود استاد سره به مې شریک کړ، هغه به په ډېره مینه او اخلاص کرښه په کرښه لوسته، د محتوایي لارښوونو ترڅنګ یې فني او ټایپي تېروتنې هم راته په ګوته کولې، د اصلاح او سمون لپاره به یې په لیکلي او شفاهي بڼه مشورې را کولې چې په پایله کې دا دی په دې ډول دا علمي څېړنیزه پروژه بشپړه شوه.

په دې علمي - څېړنیزه پروژه کې د ادبیاتو په پرمختګ کې د ادبي کره کتنې په ارزښت او اهمیت خبرې شوې دي او یو شمېر پوښتنو ته، لکه: د ادبیاتو په پرمختګ او تکامل کې ادبي کره کتنه څه رول لري؟ آیا د پښتو ادبیاتو په لرغوني او منځنۍ دوره کې هم کره کتنه شته؟ د پښتو ادبیاتو په لرغونې، منځنۍ

او اوسنۍ دورو کې کره کتنه په کوم حالت کې وه او ده؟ د پښتو ادبیاتو روان کره کتنیز بهیر د منلو دی او که نه؟ د کره کتنې د پرمختګ او ترویج لپاره څه کول په کار دي؟ په کې څوابونه ویل شوي دي.

## د څېړنې میتود

د دغې علمي- څېړنیزې پروژې په لیکلو کې له تحلیلي – تشریحي میتود څخه کار اخیستل شوی، موضوعات تحلیل او تشریح شوي او د اړتیا په وخت کې له انتقادي میتود څخه هم استفاده شوې ده چې د همدغو میتودونو پر بنسټ، په لومړي څپرکي کې ټول هغه آثار ښودل شوي دي او له اړتیا سره سم نقد شوي هم دي چې په دې برخه کې لیکل شوي دي. په دویم څپرکي کې د کره کتنې تعریف، اهمیت، د کره کتنې ډولونه او د کره کتنې آداب د څېړلو ترڅنګ د تاریخ په اوږدو کې په لوېدیځ او ختیځ کې د کره کتنې بهیر هم څېړل شوی دی. په دریم څپرکي کې د کره کتنې د معیارونو، اصولو او لارو چارو په اړه څېړنه تر سره شوې ده. په څلورم څپرکي کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د لرغونې، منځنۍ او اوسنۍ دورې د ادبي کره کتنې د تاریخي بهیر په اړه څېړنه تر سره شوې ده او په پنځم څپرکي کې په پښتو ژبه او ادبیاتو کې د نثر او نظم په برخه کې د تر سره شوو کارونو تحلیل او ارزونه وړاندې شوې ده. دا څېړنه د پایلې، وړاندیزونو او د اخځلیکونو په را وړلو سره پای ته رسېدلې ده.

## څېړنیز اهمیت اړتیا او مبرمیت

څېړونکی د یوې موضوع اړتیا او اهمیت ته په کتو هغه څېړي، ما هم همدغو مسایلو ته په کتلو سره د دغې موضوع څېړلو پیل وکړ او دغه مسؤلیت ته مې اوږه ورکړه. که څه هم په دې برخه کې تر دې څېړنې مخکې ځینې کارونه شوي دي، خو اکثره یې نیمګړتیاوې، ستونزې او ننګونې لري، چې دغو ستونزو ته په کتلو ما د بشپړاوي په موخه د دغه کار هوډ وکړ چې دا دی تر بشپړېدو وروسته یې تاسو مخکې ږدم. د پښتو ادبیاتو د کره کتنې د تاریخي بهیر په برخه کې چې کوم کارونه تر شوي دي، په خپل وخت کې پر ځای او ښه کار ورته ویلای شو، خو د اوس وخت د لوستونکو اړتیاوو ته ځواب نه شي ویلای. البته که زیاتره یې وکتل

شي، نو درته به جوته شي چې کابو ټول يې له يو کتاب څخه را کاپي شوي دي، حتی نوې بېلګې هم لا نه دي ورته را وړل شوې، نو په همدې دليل اوسنيو اړتياوو او غوښتنو ته په کتلو اړينه وه چې په دې موضوع له سره نوی کار وشي.

د دې کار توپير په دې برخه کې له نورو تر سره شوو کارونو سره په دې کې دی چې د پښتو ادبي کره کتنې د لومړي لاس منابعو په تر لاسه کولو سره دا کار په نوې بڼه ليکل شوی دی. د هرې دورې د کره کتنې پر حالت باندې هم خبرې شوې دي، له ۱۳۵۷ لمريز کال څخه وروسته د کره کتنې د حالت په اړه ډېر څه نه و ويل شوي او نه هم ليکل شوي و، حتی له ۱۳۷۰ لمريز کال را په دې خوا، خو د پښتو ادبياتو د کره کتنې د حالت په باره کې له يو دوو مقالو پرته چې په هغو کې هم اجمالي بحث شوی دی، نور څه نه و ويل شوي، خو د دې اثر په ليکلو سره دا برخه هم روښانه شوې ده.

د دې علمي پروژې د څېړنې په وخت کې له ځينو ستونزو سره هم مخامخ شوی يم: يو دا چې کله مې د دې موضوع پر څېړلو کار پيل کړ، نو کوښښ مې وکړ چې د لومړي لاس منابع وپلټم او په دې برخه کې چې څه وايم، په ثبوت يې ورسوم، خو له بده مرغه زموږ په ګران هېواد کې د اوږدې جګړې په ترڅ کې د هرې برخې د ويجاړۍ ترڅنګ زموږ فرهنګي برخې ته هم ډېر زيان اوښتی دی. زموږ د پخوانيو مجلو او اخبارونو، لکه: (طلوع افغان، کابل (مجله)، پښتون اخبار، رهبر او داسې نورو کلکسيونونه چې په دې برخه کې بايد کتل شوي وای، هم له خاورو سره خاورې شوي دي او يا که چېرته به موجود هم وو، نو د کتابتونونو،د مسؤلينو د بېغورۍ له امله ګډوډ او پيدا کول يې ډېر ستونزمن و، په دې برخه کې مې تر خپله وسه خواري ګاللې ده.

دويم دا چې د پښتونخوا په ادبي بهير کې د کره کتنې د حالت او وضعيت د څېړنې په برخه له يو ډول مشکل سره مخامخ شوم او هغه دا چې کله مې د پښتونخوا په ادبي بهير کې د کره کتنې د تاريخي بهير د څرنګوالي په اړه څېړنه کوله د آثارو له نه شتون سره مخامخ شوم، که څه هم هغه څه چې په پښتونخوا کې ليکل شوي وو، هغه مې په يو ډول نه يو ډول تر لاسه کړل او له خپلې اړتيا

سره سم مې ګټه ورڅخه واخیستله، خو دا پته هم راته ولګېده چې د لر او بر لیکوالان او څېړونکي لا هم یو د بل له کارونو څخه نا خبره دي. که څه هم په اوسني وخت کې ټولنیزو رسنیو، لکه: فېسبوک، واټساپ، وایبر، ټلیګرام او داسې نورو دغه ټولنیز واټن را نږدې کړی دی، خو بیا هم لکه څرنګه چې ښایي هغسې دلته او هلته د ادبیاتو په برخه کې له نویو څېړنو څخه نا خبره غوندې دي، چې باید دا فاصلې لرې شي او د پښتو ژبې او ادبیاتو په برخه کې دلته او هلته ټول څېړنیز کارونه په یو ډول همغږۍ کې تر سره شي.

دلته غواړم چې له خپل لاربنود استاد څېړنوال سید نظیم سیدی، څخه د زړه له تله مننه وکړم چې د دغه کار د سرته رسولو لپاره یې لازمې مشورې را کړې دي، د افغانستان علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز له نورو استادانو او پر کتاب د تقریظ لیکونکو استادانو هر یو(څېړنپوه سید محی الدین هاشمي) او (څېړنپوه محمد نبي صلاحي) څخه مننه کوم چې پر کتاب یې خپل نظر څرګند کړی دی. په دې استادانو کې د سرمحقق زلمي هېوادمل نوم په ځانګړې توګه د یادونې او مننې وړ دی، ځکه چې استاد هېوادمل د منابعو په پیدا کولو کې را سره مرسته کړې او د دې ترځنګ مې وخت پر وخت د څېړنې او تحقیق په برخه کې ورڅخه ډېر څه زده کړي دي. له خپلې درنې مېرمنې(زهرا بهار) څخه چې له ما سره یې د ځینو عربي منابعو د پلټلو او پیدا کولو په برخه کې مرسته کړې، د خپلې خوږې مور جانې، پلارجان او د کورنۍ له نورو غړو څخه ځانګړې مننه کوم چې د قرنطین په سختو شپو او ورځو کې یې زما خیال ساتلی او په کور کې یې د څېړنې ماحول راته اماده کړی و.

په پای کې بیا هم یادونه کوم چې تر خپل وس او توان پورې مې هڅه کړې چې د پښتو ادبیاتو د کره کتنې د تاریخي بهیر په برخه کې، نوي څه را وسپړم، هغه آثار چې مخکې په دې برخه کې لیکل شوي، هغو ته په کتو سره زما دا څېړنه یوه نوې هڅه ده، خو هغه د پښتنو په اصطلاح ((انسان تر خپلې وسې پر دی)) هره څېړنه نیمګړتیاوې لري او پرته له شکه زما څېړنه به هم نیمګړتیاوې ولري،

خو هیله من یم چې د کتاب د لوستلو په وخت کې که له کومو تېروتنو سره مخامخ شوئ، هیله ده چې په اصلاح او سمون کې یې را نه خپلې مشورې، وړاندیزونه او پېرزوینې ونه سپموئ.